
# افغانستان آزاد ـــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم*

| afgazad@gmail.com | www.afgazad.com |
|---|---|
| سیاسی | Political |


قاسم باز
۰۱ اگست ۲۰۲۳



قاسم باز

## تاریخ او که د سترګو لیدلی حالات!

هاغه افغانان چی په پنځوسمه لسیزه کی د بلوغ قانونی سن ته رسیدلی اوس تقریباً شپیته کلن شوی اکثره د دی سن اوسال افغانان پخپله ژوندی کرونولوجی ده ، دوی په خپلو غړولو سترګو د افغانستان د تیرو څو لسیزو سیاسی ناخوالو لیدلی چی تشریح ته ضرورت نلری .

تاریخ دی ته نه وایی چی څوک د شخصی، فامیلی او ګروپی تمایلاتو پخاطر د ملت د قاتلینو، وطنفروشانو، چوراهدینو څخه مصنوعی قهرمانان جوړ کړی. هر وطن پلورونکی ، د بیګانګانو زرخریده ایجینت او چوراهد ملی قهرمان کیدای نشی ملی قهرمان ځانګړي خصوصیات لری، محترم کاندید اکادمیسین اعظم سیستانی دا خصوصیات داسی بیانوی لیکی ،« ملی قهرمان باید د خارجی هیوادنو د استخباراتو سره اړیکی و نه لری ، په وطن پلورنه متهم نه وی په فساد او غصب کی دخیل نه وی. » ، هاغه زیاتوی « چی د تیرو څلورو لسیزو حوادثو کی شریک او دخیل خلک هیڅکه ملی قهرمانان نشی کیدای.»

زما ددی لیکنی موخه دا نده چی زه د تیرو څو لسیزو واقعات او حوادث تشریح کړم بلکه هدف می دادی چی اوسنی وضعه تحلیل او تشریح کړم.

د کابل اوسنی اداره چی د امارت اسلامی افغانستان په نوم یادیږی د دوه عمده ډلو له خوا پر مخ وړل کیږی یوه مذهبی متعصب ډله چی زیاد مذهبی قوت او قدرت لری د ملا هیبت الله اخوند په مشری قندهار کی ، او بله اداری یا حکومتی ډله چی دولتی قدرت لری په کابل کی میشته ده. تر اوسه داسی برېښی چی د قندهار میشته مذهبی ډله د دولتی ډلی څخه زیات قوت او قدرت لری ، ددی مذهبی ډلی مشران اکثر په قندهار کی سره را جمع شوی او د هاغه

ځایه امر ونهی صادره وی ، اما د کابل ډله چی اکثره په دولتی چارو کی بوخت او ځان د قندهار حلقی ته پاسخگو بولی، کله نا کله په بعضی مواردو کی خپله نارضیاتی په ملی او بین المللی موضوعاتو کی هغه هم په ډیر احتیاط سره څرگنده وی، چی ددی ډلی عمده اشخاص ملا یعقوب د دفاع وزیر، سراج الدین د کورنیو چارو وزیر او نوی رئیس الوزراء مولوی کبیر، ستانکزی او نور دی. د ایران د جمهور رئیس ( رئیسی ) روستی غیر دیپلوماتیک څرگندونی د کابل گروپ یا ډله نسبتآ قوی کړه، د احتمال نه لری نده چی د ایران او افغانستان اوسنی شخړه به په دواړو هیوادو افغانستان او ایران او بالخصوص پر منطقه عظیم تاثیر وغورځوی. که چیری وضعه په همدی ډول ادامه پیدا کړی د قندهار او کابل اداره مجبور کیږی چی د امریکا فزیکی حضور ته په افغانستان کی غاړه کیږدی ، د شواهدو او قراینو څخه داسی بریښی چی دی کار ته امریکا هم لیواله ده.

دا چی تر اوسه ااا چا په رسمیت ندی پیژندلی اسلامی امارت هم ځان بین المللی قوانینو او نورمونو ته مسول او تابع نه گڼي. اما د رسمی پیژندگلوی په صورت کی بیا ااا ځان مسول کڼی ، خو کله چی دوی ملی او بین المللی مشروعیت تر لاسه کړی بیا واضح خبره ده چی دوی به په ملی او بین المللی مسایلو کی دومره ازاد لاس ونشی درلودی.

په سیاست کی هیڅوک سل فیصده حکم نشی کولای چی دا نظر درست او یا هاغه نظر نادرست دی ، د اجتماعی علومو یو عالم وایی چی سیاست دایمی دوست او دشمن نه لری ځکه چی سیاست د هیواد او منطقی د وضعی تابع دی دا زما ځانگړی تبصره وه ، منتظر به پاتی شو چی په راتلونکی کی څه پیښیږی . وسلام، پای.

۵/۲۸/۲۰۲۳